پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۰۸/۱۷

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال

## پینځم توک

دوه سوه اوه پینځوسمه پرله پسي برخه

## کندهار

ایدیت:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**سید محمد شاه**: یا: سیدان: ۳۷ – ۳۱، ۱ – ۶۶: دا یو کوچنی کلی دی چې تمپل ئـي " رباط ته نیږدي د ترنک د سیند پر غاړو" یادوي. دا امکان لري چې دا کوچنی کلی دې هماغه کلی وي چې په نقشه کې د سید نور محمد په ډول ښودل سوی دی. بریډمن ټمپل همدلته عمومي لاره شا ته پرېښودله او د یوهٔ ګودر له لاري د ترنک له سینده واوښت بیا ئـي د ۱۲ مایلو په واټن سویل لور ته د «دِهٔ نو» پر لور مارش وکړ چې د ارغسان په دره کې امین کلا ته د تللي لاري په اوږدو کې پروت دی. ټمپل وایي چې نوموړی ګودر (د ۱۸۷۹ز کال د فبروری د میاشتي په دوهمي نیټي) تر زنګانو پوري ژور وو چې د ګودر بستر آسانه او ټینګ وو. نوموړی وایي چې د اوبو د راتلو په بهیر کې په ښی غاړه کې شیوه ځایونه دي له دې کبله د تیریدلو پر مهال ډیر احتیاط ته اړتیا ده ځکه سیند ډیر چټک بهیږي او ژوروالی ئـي هم ثابت نـهٔ دی. له مهمندو «بل ځای کې تشریح سوی» ښخه واټن چې د کندهار پر لور د دمي نیولو راتلونکی ځای دی ۹ مایله دی. د ښځناک اوبـهٔ « چې ښایي له سیند ښخه وي» ښې او پریمانه دي، او د کمپ ځای ته نیږدې د اوښانو لپار څړ ځای هم سته. «ټمپل» *په دې نوم نور کلي په ۵۴ – ۳۰، ۱۹ – ۶۶ «ن»، ۶ – ۳۱، ۵۹ – ۶۵ «ج» او ۲۴ – ۳۱، ۵ – ۶۶ «ج» کې موقعیت لري.*

**سید نور محمد**: وګورئ: مخکینی مقاله

**سید یحیی:** ۶ – ۳۰ ، ۵۷ – ۶۵ «ج»: دا د ښوراوک په لویدیځې څنډي کې د شګو د یوې غونډۍ پر سر له ابوزیو تقریباً ۱ مایل لیرې یو کوچنی کلی دی. دې کلي کې د شادي زیو سیدانو تقریباً ۲۰ جونګړې دي، دا شادي زي سیدان د پشین له ځانګي ښخه دي. دوی ځانونه کاکازي بولي او مدعي دي چې د عنایت الله په کاریز کې له سیدانو سره اړیکه لري. په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنـي د لیکنیزي بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

ښوراوک کي د دوی ټول ټال تقریباً ۶۰ کورنۍ دي. د سید یحیی تر څنګ د تورزیو او علي زیو او نورو دوه یا دري کورنۍ هم سته چي په ټول ئې په کیږدیو کي ژوند کوي. دوی شپانـهٔ دي او هم په ترانسپورتي چارو کي هم لږ برخه اخلي. په سید یحیی کي کرکیله نـهٔ سته. دا ځای اکثراً د سید یوسف په نوم یادیږي، سید یوسف پخوانی ملک وو. دا کلی له ۱۸۷۲ز کال را په دیخوا شتون شتون لري او په ۱۸۸۱ز کال کي د دې ځای خلکو تصدیق کړه چي د غونډۍ پر ژۍ باندي چي کلی ودان دی د دوی په باور شګو خپل ځای نـهٔ دی بدل کړی. «میتلند» *اوسنی نقشي د سیدانو نوم په دې سیمي کي په ۷ ــ ۳۰، ۵۸ ــ ۶۵ «ن» کي ښیي.*

* **سید زي:** ۳۳ ــ ۳۲، ۳۱ ــ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کي د ترنک د سیند د سویل په تقریباً ۲ مایلۍ کي او د شاه جوی د شمال ختیځ په تقریباً ۱۰ مایلۍ کي یو کلی دی.

**سیدال:** ــ ۳۱، ــ ۶۵: دا د کشک نخود په ولسوالۍ کي یوې زړې کندوالي کلا ته نیږدې د کمپ یوه سیمه ده او دې سیمي خپل نوم د همدې کلا له نامـهٔ څخه اخیستی دی. دا سیمه د ارغنداب د سیند پر ښي غاړه د عطاء له کاریزه ۱۱۴ مایله لیرې د هغـهٔ سویلي سړک پر غاړې واقع ده چي د ګرشک د سیند پر غاړې پر مخ درومي. له دې ځایه د اړتیا وړ توکي ترلاسه کیدای سي. له «ګنبذ سرخ» «ګنبد سرخ ــ ژ» څخه د ګرشک پر لور بل مارش ۱۱ مایله دی. «سیټوارت، آی. بي. سي.»

* **سید شاه:** ۵۵ ــ ۳۱، ۱۶ ــ ۶۶: دا د کابل او د زابل د ولایتونو د پولو تر منځ د «چکاو دښت» په سویل کي او نورزیو ته نیږدې یو کلی دی.

**سیف الله:** ــ ۳۱، ــ ۶۶: دا د بارکزیو د ۳۵ کورونو یو کلی دی چي د وندوز د یوې څانګي د «وچکی نالي» پر غاړې واقع دی. دا یو له هغو کلیو څخه دی چي ټول ئـې په ګډه د «کونچا زیو» په نوم یادیږي، دا نوم د هغـهٔ چا له نامـهٔ څخه راغلی چي په ۱۸۷۹ ــ ۱۸۸۰ کي د دغو کلیو ملک وو. «کلیفرډ، مسي»

دا کلی اوس کنډواله دی «بومي معلومات ۱۹۰۵» *په دې نوم یو کلی د خوګیانیو د لویدیځ په تقریباً ۱۲ مایلۍ کي په ۳۴ ــ ۳۱، ۲۲ ــ ۶۶ «ج» کي او بل ئـې چي د سیف الله د کلي په نوم یادیږي په ۴۴ ــ ۳۱، ۵۲ ــ ۶۶ «ن» کي موقعیت لري.*

**سایندہ ؟:** [1]: «ساین دِه ــ ژ»: ــ ۳۱، ــ ۶۶: دا کندهار ته د تللي لارې په اوږدو کي له معروف څخه ۳۰ مایله، له بابا کلا څخه ۱۸ مایله لیرې یو کلی دی. دا یو کلی دی چي د یوهٔ سیند پر غاړه واقع دی. «لیچ»

* **سلام:** ۳۱ ــ ۳۱، ۲۴ ــ ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولایت کي د سینجیري د سویل لویدیځ په تقریباً ۱۲ مایلۍ کي د ارغنداب د سیند پر غاړې یو کلی دی.

* **سلامت:** ۱۷ ــ ۳۱، ۲۴ ــ ۶۷ «ن»: دا د کندهار او د زابل د ولایتونو منځ پوله باندي د «لهار په شیله» کي د بابکر غرهٔ شمال ته د تللي لارې پر سر یو کلی دی. شمال لور ته څو مایله وړاندي د «سلامت کلی» دی.

**سلام کلا: سلام قلعه:** ۴۷ ــ ۳۱، ۴۵ ــ ۶۶ «ن»: دا د خشک رود په علاقي «ګواري» [2] کي د سیند پر کیڼي غاړې یو کلی دی. دا د خشک رود په درې کي د هوتک غلزیو لومړنی کلی دی چي ورسره مخامخ کیږئ. د ۱۸۸۰ز کال د اپریل په میاشت کي د یوهٔ غنډ لپاره د اړتیا وړتوکي زښت ډیر پریمانه ول؛ د اوښ څړ ځایونه ئـې هم ښـهٔ ول. «ری آل، ایلیس» *په*

[1] - SAINDEH

[2] -Gwari



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

*دې نوم نور کلي په ۳۵ – ۳۱، ۱ – ۶۷ «ن»؛ او ۵۷ – ۲۹، ۵۵ – ۶۵ «ن» کې موقعیت لري. اوسنی نقشي د «سلام خان کلی» نوم ښیي.*

**سلام خان کلی:** ۴۸ – ۳۱، ۴۵ – ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د جلدک د سویل په ۱۲ مایلی کې د خشک د سیند پر غاړې یو کلی دی.

**سلنغي:** وګورئ: سلبغي

**سالار زي:** ۵۸ – ۲۹، ۵۹ – ۶۵ «الف»: دا د «لوړې» په ختیځ کې د ښوراوک په دښتي کې یو کلی دی چې د یار محمد په نوم هم پیژندل کیږي. دا کلی د مندوزیو د سویل – سویل ختیځ په تقریباً ۵ مایلی کې او له میروخان شیراني څخه ۷ مایله لیرې دی. دا د همدې سیند په اوږدو کې تر ټولو وروستی سویلي کلی دی او نوشکي ته پر لارې د قافلو د لارو په لور کې چې دا کلی ورڅخه ۲۷ مایله لیرې واټن لري واقع دی. دا کلی ۶۰ کورنه لري او استوګن وګړي ئـې «سالارزي مالارزي مندوزي بړیڅ» [3] دي؛ خو یوازې ۲۰ کورنی ئـې دائم استوګني دي او ډیری نوره برخه ئـې د حاصلاتو له راټولولو وروسته مندوزیو ته ستنیږي، دا حاصلات د مې د میاشتې په شا و خوا کې وي، پاتي نور ئـې د قلبې تر فصل پورې پاتي کیږي چې د نوامبر یا دسمبر میاشت کیږي. «میټلند»

دلته کرهنه سوې ده او د یوۀ نهر په اوبو خړوبیږي چې نسبتاً مالګيني یا تروې اوبـۀ دي. له وربشو پرته نور د اړتیا وړ توکي په لږ اندازه له دې ځایه ترلاسه کیدای سي. «آی. بي. سي.»

**صالح دواړه ناله:** [4] – ۳۱،– ۶۷: دا یوه ناله ده چې د «پش غبرګي» [5] په غرونو کې مخ پر لویدیځ او په پای کې مخ پر سویل لویدیځ بهیږي. «بن، ۱۸۹۴»

**صالح محمد کلی:** ۵۱ – ۳۰، ۲۱- ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې افغان پولې ته نیږدې، له ښوراوک څخه تر سپین بولدک پورې د سړک د ختیځ په تقریباً ۵ مایلی کې یو کلی دی.

**سالي سون: سیلسن: ثالیسون: ثالثون:** ۳۲ – ۳۱، ۵۱ – ۶۶ «ن»: دا یو سیند دی چې د نخاس د غرونو له شمالي ډډو او مهمهیزوو څخه راپورته کیږي او د ارغسان د سیند پر لور بهیږي. د دې سیند دوې بنسټیزې څانګې «ګاره» او «لاهاري» [6] دي او په ترتیب سره مخ پر لویدیځ – سویل لویدیځ او شمال لویدیځ بهیږي او له خپلې سرچنې څخه ۲۰ مایله لیرې له یوبل سره یو ځای کیږي. د همدغو څانګو له یو ځای کیدلو وروسته سیلسن / ثالثون د ۲۴ مایلو لپاره مخ پر لویدیځ – شمال لویدیځ بهیږي او کله چې د «اوبه تو»، «سنځلی»، «غوري» [7] او د نورو کوچنیو نهرونو اوبـۀ په ځان کې راټولې کړي د نارین د غرنی څوکي له شمال ختیځه ۹ مایله لیرې د ارغسان له سیند سره له کین لوري یو ځای کیږي. د همدې غرنی له څوکي که ورته وګورئ د سیند دواړو غاړو کې ښه کرهنه سوې ده او ګڼ - استوګني سیمه ده. د دغو کلیو استوګن وګړي بارکزي دي. «بن»

---

[3] - Salarzai Malarzai Mandozai Barechis
[4] -SALEH DWARAH NALA
[5] - Pashghbargai
[6] - Gara and Lahari
[7] - Obatu, Sinzala, Ghurai


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**صالحان:** نهر حضرت: ۳۳ – ۳۱، ۳۲ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار د سویل لویدیځ په ۹ مایلۍ کي او د چقور د سویل لویدیځ په نیم مایلۍ کي د ۳ کلیو یوه ډله ده. «بیسکو» په دې نوم یو سیند په ۴۴ – ۲۹، ۱۳ – ۶۴ «ن» کي او یوه ځاه په ۳۸ – ۲۹، ۱۰ – ۶۴ «الف» کي موقعیت لري.

**سلیم: یا سیلم** [8]: ۱۲ – ۳۲، ۲۸ – ۶۶ «الف»: لوړوالی: ۴۵۵۱ فیته. یو کلی چي د کلیو دي ډلي ته خپل نوم ورکوي د ارغنداب په درې کي د میزان د لسوالي یوه علاقه جوړوي. دا کلي د ارغنداب د سیند له کیڼي غاړې نیم مایل لیري دی چي له قلات غلزایي سره د یوه سړک له لارې وصل دی چي ورڅخه ۲۹ مایله واټن لري.

د کندهار پر لور لومړي مارش کي، له ارغسو څخه د دې کلي واټن ۱/۱ ۱۰ مایله دی او لاره ئـې آسانه ده او له «تکیر» څخه، د قلات غلزایي پر لور تر ټولو نیږدې کمپ، ۲/۱ ۱۲ مایله د سړک له لارې دی چي د لارې په اوږدو کي ډیر ختل او کښته کیدل لري او د توپونو د لیږدولو لپاره نسبتاً سخته لاره ده.

ویل کیږي چي له دې ځایه یا په میزان کي له تاخم څخه تر کندهار پورې دوې لارې تللي دي، چي یوه لارې ئـې د سیند په یوې غاړې کي او بله ئـې د سیند په بلې غاړې کي واقع ده او دواړه لارې په ډیریو ځایونو کي مخې بدلوي خو په ارغسو کي سره یو ځای کیږي. ویل کیږي چي دا لاره تر ټولو ښه لاره ده، په ۱۸۷۹ز کال کي د فبرورۍ په میاشت کي د کشف ډلي یو کتار په دې لارې باندې په ۷ مارشو کي کندهار ته ورسید چي له سلیم څخه ئـې واټن ۲/۱ ۷۳ مایله لیرې دی. ویل کیږي چي دا لاره د توپچي د ځواک د تګ لپاره عملي نـهٔ ده خو د صحرایی توپونو لپاره ښه لاره ده « دغه کتار چي په دې لاره تللی وو ښیي چي د اوښانو د تګ لپاره لږ عملي وو»، دا لاره د پلیو سپرو ځواکونو د تګ لپاره هغه مهال ښه ده چي سیند سیلابي نـهٔ وي خو کیدای سي په نورو فصلونو کي هم په ګودرونو کي د اوبو د ژور والي لپاره ښه نـهٔ وي. د ارغنداب د سیند غاړو ته په کتني چي غرونو جوړې کړې دي او هر چیرې ته دې ته اړتیا لیدل کیږي له سیند څخه تیریدل او راتیریدل غواړي، له دې لارې څخه اجتناب نـهٔ سي کیدای. په ۱۸۷۹ز کال کي د فبرورۍ په میاشت کي په سلیم کي اوښان یا نور بار وړونکي څاروي تر لاسه نـهٔ سو، یوازې څو پسونه ورڅخه ترلاسه سول چي غوښـه ئـې د خوراک لپاره وکارول سوه، له کلي څخه د اړتیا وړ څو سوه توکي یعنی غلات راټول سول او بیسکو وایي چي د اړتیا هر ډول توکي چي کولای سي ۳۰۰۰ جنګیالیو ته خوراک توکي برابر کړي او " په څو ساعتو کي" د تاخم، سیاه جوی او د شیخانو له ګاونډیو کلیو څخه راټول سي. ویل کیږي چي د ترانسپورت لپاره باروړنکي سخوندر هم دلته ډیر او تر لاسه کیدای سي.

د ارغنداب د سیند ګودر د میزان په ولسوالي کي په عام ډول له ۳۰ یارډو ډیر ارت نـهٔ دی، خو په سلیم کي بیا ۲۰۰ یارډه ارت دی او په څو ګودرونو کي ورڅخه باید تیر سو. د دغو ګودورونو بیخ ډبرین دي او اوبـهٔ ئـې له ۲ تر ۳ فیتو ژوري دي؛ د اوبو د بهیدلو چټکوالی د فبرورۍ د میاشتي په لومړۍ اونۍ کي په ساعت کي تقریباً ۲ مایله وو.

بیسکو وایي چي له تکیر څخه تر سلیم پورې یوه بله لاره تللي ده چي د کلات غلزایي پر لور یو مارش لاره ده، دا لاره له سویل او د تاخم د درې له منځه د تللي عمومي لارې له اوږدو سره موازې غځیدلې ده، خو دا لاره د توپچي ځواک د تګ لپاره ډیره سخته ده او واټن ئـې هم د ۲/۱ ۱۲ مایلو پر ځای ۱۵ مایله دی. په سیلم کي د کمپ سیمه سیند ته نیږدې ده او د کلي سویل کي کرهنیزه ځمکه ده چي له باران وروسته ډیره مرطوبه وي. د سیند په بلې یا مخالفي غاړې کي د کمپ لپاره

[8] -SALIM or Sehlum


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

یو بل فوق العاده عالي ځای سته. «بیسکو، ګیسلي» *په دې نوم بل کلی په ۱۲ - ۳۲، ۲۹ ــ ۶۶ «ن». اوسنی نقشې د «پوپلزو سلیم» نوم ښیي.*

**سلیم کاریز**: ۴۰ ــ ۳۱، ۱۹ ــ ۶۵ «ن»: دا یو کوچنی کلی دی چې ښې او پرمانه اوبـهٔ لري او د ارغنداب په دره کې له سینجري «سنجري» څخه د لالک او میوند تر کوتلونو پورې د لارې په اوږدو کې واقع دی؛ لینس وایي چې دا کلی له نورو کلیو څخه په لیرې واټن کې موقعیت لرې او د لالک د کوتل له خولې څخه دښته تقریباً ۳ مایله اوږده ده. دا کلی د کندهار له لویدیځ څخه ۲۵ مایله، له میوند څخه ۱۰ مایله او د خاکریز په دره کې د لالک له کلي څخه ۲/۱ ۹ مایله لیرې دی. «لینس»

**سالي سون:** وګورئ: ثالیسون: ثالثون

**سالي زي**: دا د ګنجه زیو اخکزیو یوه فرعي څانګه ده. د یو شمیر روایاتو له مخې دوی د «سالي»[9] له پښته دي چې د قوم یو له نیکهٔ ګانو څخه وو؛ دا د قوم یوه اساسي څانګه ده. خو کلیفرډ دوی د عیدوزیو یوه فرعي څانګه بولي او وایي چې د دوی شمیر ۱۲۰ کورنی دی. دا امکان سته چې دا شمیره لږ ویل سوي وي ځکه یوه بله سرچینه د دوی شمیر له علیزیو، عیدو زیو او نورو سره برابره بولي. سالي زي معمولاً په «کونچای» او هم د مرغه چمن په ګاونډ کې او هم د سرګون د نالي پر غاړې موندل کیږي. ویل سوي چې دوی په توبه کې ځمکې لري خو دې سیمې ته هر وخت نـهٔ ځي. «کلیفرډ، میتلند»

* **سالو خیل**: ۳۹ ــ ۳۱، ۵۲ ــ ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د مردان خیلو د سویل لویدیځ په تقریباً ۱ مایلی کې د لوړه د سیند پر غاړې یو کلی دی.

**سالو**: صالو: ــ ۳۱، ــ ۶۵: دا د کندهار په سویل ختیځ کې ۹ مایله لیرې یو کلی دی. «بیسکو» په دې نوم نور کلي په ۵۶ ــ ۳۰، ۴۷ ــ ۶۵ او په ۱۶ ــ ۳۳، ۴۲ ــ ۷۸ «ج» کې موقعیت لري.

سلوات وګورئ: ساح لاباد

**سلواتو**: ۳ ــ ۳۰، ۱۲ ــ ۶۶ «الف»: دا د سرلت په غرنی لړی کې د کوتلونو په منځ کې یو کوتل دی چې د ایلتاز د کاریز خواته نیږدې له یوې دنګې سیمې څخه ښوراوک ته مخه لري. دې کوتل ته ننوتل د بالا دشت د شمال لویدیځ له یوهٔ ګوټ څخه چې له شادین تالو څخه تقریباً ۲ مایله لیرې دی کیږي. غرونه دلته ټیټ دي او مهمیزونه ئـې د اهمیت وړ نـهٔ دي. له لومړیو لوړو ځایونو څخه له پورته کیدلو وروسته تقریباً یو ناځاپې د «پښې لاره» ښې لور ته جلا کیږي او تقریباً له همدې ټکي څخه د اشترک لاره هم ښې لاس ته منشعبه کیږي. نیم مایل وړاندې «پیر ګالي چوپای»[10] راځي چې د لارې د سر یو عادي زیارت دی او څو عادي تخته سنګي لري او ستنې ئـې په رنګه رنګه ټوکرانو پسولل سوي دي. دا د یوهٔ سیمه ییز روحاني آرام ځای دی چې د لارې له ښي لاس څخه ۲۰۰ یارډه لیرې دی.

د اشترک لاره وړاندې د زیارت له څنګه تیریږي. له شادین تالو څخه په دریم مایل کې تاسو د کوتل له تاج یا سر څخه تیریږي. له بالا دشت څخه ختل تر دې ځایه ډیر نرم او آسانه دي او ګردچاپیره غرونه لږ و ډیره مواج یا څپاند دي. خو لاره یو ناځاپه په یوې ژورې، ډیریني تنګي درې ورننوځي. لاره د لومړي یو مایل واټن لپاره په قطعي ډول سخته ده. په ډیریو ځایونو کې ان که ښاروي یو استوی لاړ هم سي بیا به هم په سختی سره تیریدلای سي. د لارې په دواړو غاړو کې

---

[9] - Sali

[10] - Pir Gali Chopai



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

غرونه د رس له کانو جوړو تخته سنګو څخه پورته ځي خو دومره نـۀ دي چې ختل دې ورباندې ونـۀ سي خو ډېر ستوغ او ګرنګ ډوله جوړښت لري. که اړتیا پیښه سي د کوتل سر ته دې وخیږي. کښته کېدل توند دي او هر چیرې چې تخته سنګې د نالي بستر ته راوتلي دي چې معمولاً د څو فیټو لپاره کوزې تللي دي. دا تخته سنګې طبیعي پوړۍ یا زینې جوړوي خو ټولې ئـې ښې نـۀ دي چې څوک دې سپور پر آس ورباندې تیر سي ان که څوک د ډېر هوښیار آس پر شا هم سپور وي ورته آسانه کار نـۀ دی.

د کوتل له سره په نیم مایل کې او هم څو ځایه نور کوز اوبـۀ سته. دلته که څه هم دره یوازې څو یارډه ارته ده خو پوځي ډله په کې اتراق کولای سي. په شارود کې له «چیچازیو» څخه واټن ۲۲ مایله او له «انجیرګي» څخه تقریباً ۱۳ مایله دی. په ښوراوک کې پُتله خان تقریباً ۲/۱ ۱۰ مایله لیرې دی. دلته د اور بلولو او نورو نښې ښیي چې په کوتل کې د اوبو دا ځای د هغو خلکو لپاره د دمې نیولو عادي ځای دی چې د شارود او ښوراوک تر منځ سفر کوي. دا ټول ناهموار او نری تنګې خپل ځای یو ناڅه یوې ښې درې ته ورکوي چې ۴۴ یا ۵۰ یارډه ارته ده او هرڅومره چې راکوزیږي دا دره لار پراخیږي. د درې بستر ټینګ، نرم او د رس د ډبرو په جغلو ډک دی. د کوزېدلو سختوالی ئـې چې په لومړیو کې د ۱ او ۱۸ تر منځ وو ۱ په ۲۵ کې یا تر دې لږ ته راټیټ اوآسانیږي. غرونه د پخوا په شان لوړ او شخ دي. د شینې ونې « د پستې ونې» [11] دلته پریمانه شنې سوې دي.

د کوتل له سر څخه په ۲/۱ ۶ مایل کې د سرلت مهمیزونه چې تر دې ځایه ئـې کوتل محصور کړی وو نور پای مومي. دلته نسبتاً پراخه فضا ده او کله ناکله اوبـۀ هم په کې موندل کیږي. دا ټکی د «ولي» یا «ګت» [12] له کوتل سره ورته والی لري. مخ ته د غرنی لړۍ یوه باندنی برخه ده چې د «سپاري» [13] په نوم یادیږي. ښي لاس ته یو اوب یللونکي یا آب پخشان دی او له پاسه ئـې د میر علم کلا ته لاره تللې ده.

تر دې دمه لاره د سلواتو د نالي له بهیر سره موازي راغلې ده، خو دلته په تونده سره کیڼ لاس ته کږیږي او تر یوۀ لنډ واټن پورې د اساسي لړیو او باندنیو اړخونو تر منځ پر مخ ځي او بیا په سپاري کې د یوۀ حلقي تنګي له لارې دښتې ته ورغوځي. زبر دست ته تللې لاره د نالي د بهیر له لوري سره سمه پر مخ تللې ده چې نومونږي کلي ته د کوتل له سره په تقریباً ۲/۱ ۱۲ مایل کې رسیږي. له دې وروسته دا لاره نوره کومه ستونزه نـۀ لري.

پُتله خان ته تللې لاره مسقیماً تللې ده او د نالي په وړاندې برخې کې پر یوې غرنۍ ډډې ورخیږي او همدلته هماغسې چې پورته مو وویل کیڼ لاس ته تاویږي. له دې چې لاره له غرنی لړۍ څخه په ریونده یا مورب ډول د دې لپاره تیریږي چې له مهمیزونو څخه واوړي نو مخکې له دې چې دښتې ته ورسیږي باید څو ځایه کښته او پورته لاړه سي؛ یو ځای ئـې ډېر شیوه دی خو لاره تر پایه ښه ده.

له کوتل څخه ۹ مایله لیرې، غرونه بالاخره پای مومي او لاره نیغ په نیغه د «جهي» یا د «پټله خان» د کلي پر لور په نرمۍ سره کوزیږي دا ځای په عام ډول د پټله خان په نوم یادیږي او د کوتل له پاسه سره ۱۱ مایله واټن لري.

---

11 - Shina trees (pistacia cabulica)
12 - Wali or Get
13 - Spari


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د سرلت د کوتلونو په منځ کې  ولې یا ګټ ته نیږدې د سلواتو کوتل تر ټولو ښه کوتل دی خو نـهٔ سو ویلای چې د برتانوي ځواک د اوښانو د تګ لپاره دې ښـهٔ کوتل وي. دا هم باید په پام کې ولرو چې د سلواتو کوتل د ښوراوک او شاروډ ترمنځ د عادي اتصال لاره  جوړوي او تر نورو کوتلونو ډېر کارول کیږي. په درندو بارونو بار د سیمې اوښان دلته په دې کوتل کې تل لیدل کیږي خو موږ نـهٔ پوهیږو چې د اوښانو لپاره په دومره سخت کوتل باندې چې یو مایل ئـې سخت دی دا اوښان څنګه ځي، ځکه دا لاره د هر ډول باروړونکي څاروي لپاره چې له په خپلو پښو کې له کچرو لږ ټینګ وي او ونـهٔ ښوویږي سخت کوتل دی. «میتلند» د سلواتو په نوم غر په ۲۹ ــ ۳۱، ۶- ۶۷ «ن» کې موقعیت لري.

* **سامه:** ۵۶ ــ ۳۱، ۴۱ ــ ۶۷ «ن»: دا شملزیو د شمال ختیځ په تقریباً ۵ مایلۍ کې د زابل په ولایت کې د سورکي تنګي د سرک پرغاړې یو کلی دی.

**سمي: یا د سمي غر:** ۳۷ ــ ۳۱، ۵۷ ــ ۶۶ «ن»: دا یوه غرنۍ لړۍ ده چې د ارغسان د ښۍ غاړې په اوږدو کې غځیدلې ده. دا لړۍ په سویل لویدیځ کې له اساسي سیند سره د ټلنون د سیند د یوځای کیدنې د ټکي مقابل لور کې پای مومي چې د نارین د غرنۍ څوکې د شمال ختیځ په تقریباً ۹ مایلۍ کې راځي. «بن» اوسنی نقشې دا نوم د کوچنې سمي غرونو او د سمي غر په نوم په ۴۳ ــ ۳۱، ۱ ــ ۶۷ «الف» کې ښیي.

**سمکی:** ۱۵ ــ ۳۱، ۴۷ ــ ۶۶ «ن»: دا یوه ناله ده چې د کدنې د سیند له ښۍ غاړې سره له شمال ختیځ لوري، له دوبندي ۵ مایله کښته یو ځای کیږي. د دې نالې په خولـهٔ کې څه ناخه کرهنه سوې ده چې په الکوزیو پورې اړه لري. «بن»

**سمندر خان کاریز:** ۵۷ ــ ۲۹، ۱۳ ــ ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د افغان پولې د شمال په تقریباً ۸ مایلۍ کې د ښوراوک د ولسوالۍ په سویل کې د لنډۍ دښتې په سیمې کې یو کلی دی.

* **سمبوغه:** ۱۶ ــ ۳۱، ۳۳ ــ ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې له ارغسانه تر سپین بولدک پورې د تللې لارې په منځ کې یو کلی دی.

* **سامي کلی:** ۴۱ ــ ۳۱، ۵۹ ــ ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د لوړه د سیند د ختیځ په تقریباً ۶ مایلۍ کې او د «خون درې» [14] د شمال په تقریباً ۶ مایلۍ کې یو کلی دی.

**سامي زي:** ـ ۳۰، ـ ۶۶: «د محمد رضاء یا جاني په نوم یادیږي». دا په ښوراوک کې د لوړه د سیند په ختیځ کې د میرو خان د سویل لویدیځ په تقریباً ۲ مایلۍ کې یو کلی دی چې د سیند په بلې غاړې کې له مندوزیو څخه ۴ مایله لیرې دی. دې کلي کې د سامي زیو بریڅو ۴۰ جونګړې دي. دلته یوازې ۱۵ کورنۍ دائم استوګنې دي. پاتې نور ئـې لکه د نورو سالارزیو په شان د فصل له راټولولو وروسته بیرته مندوزیو ته کډه کیږي.  په دې نوم بل کلی چې مندوزي ئـې په دې نوم یادوي تر یوهٔ واټن پورې مخ پر سویل پراخ سوی دی.  دا کلی کله ناکله د جاني په نوم هم یادیږي، جاني د کلي د پخواني ملک محمد رضاء پلار وو. «میتلند» *اوسنی نقشې د «جانسيَ» نوم په ۱ ــ ۳۰، ۰ ــ ۶۶ «ن» کې یادوي. په دې نوم بل کلی په ۱۰ ــ ۳۱، ۲۸ ۰ ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.*

**سامي زي:** دا د نورزیو یوه فرعي څانګه ده چې د خواجه عمران او د ګانټي د غرونو تر منځ سیمې کې استوګنه ده. «کلیفرډ»

[14] - Khun Dara


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**سامي زي:** ۲۴ ــ ۳۰، ۴۲ ــ ۶۶ «ن»: موږ دلته د یوۀ راپور یوه برخه را اخلو چې د برغاني د کوتل له لارې له چمن څخه تر کندهار پورې د لارې په هکله ورکړل سوی دی:

"زما په فکر ښه به دا وي چې له کشوبي "خوږې اوبـۀ - ژ" څخه، د ګاټي له منځه له تیرې سوې لارې څخه ډډه وسي «ځکه د ګاټي په لارې کې تر زاړۀ چمن پورې د ۱۷ مایلو په واټن اوږده لاره ده» او پر ځای ئـې د سامي د کلي له لارې باید لاړ سو چې ډیره ختیځ خوا ته ده. ویل سوي چې د سامي زیو کلی لوی دی، یو مقدار د اړتیا وړ توکي هم لري او د ښنباک دائـمي اوبـۀ لري چې له کشوبي "خوږې اوبـۀ - ژ" څخه ۱۰ یا ۱۲ مایله لیرې دی او لاره ئـې هم ډیره ښه ده. زه په خپله د سامي زیو په هکله کوم معلومات نـۀ لرم خو ما ئـې په هکله د احتیاط په پام کې لرلو سره له بیلابیلو خلکو څخه په تکرار څیړنه او پلټنه کړې ده او هماغه پورته ویل سوې پایله ورڅخه راختلې ده. تاسو له سامي زیو څخه چمن ته له دوه وو آسانو لارو رسیدلای سئ، او یا ممکن د کوژک د غرونو په لمنې کې نیولې اوږده لاره ونیسئ. له غرنیو لښتیو څخه پریمانه اوبـۀ راځي او د لارې له سره تیریږي، کیدای سي په «سینه» [15] کې چې تقریباً ۷ مایله لیرې ده او د چمن د شمال په تقریباً ۱۰ مایلې کې په «شیرې اوبـۀ» [16] (ښایي موخه ئـې شیریني اوبـۀ وي ــ ژ) کې دائـمي اوبـۀ ترلاسه کړئ. سره له دې چې دا لاره کنډو کپر ده خو د تګ لپاره عملي ده. (کمپبل) ځینې سرچینې دا نوم د «شامي زي» [17] په ډول ښیي.

**سمني:** ۳۷ ــ ۳۱، ۵۷ ــ ۶۶ «ن»: ویل سوي چې سمني د معروف / ماروف کلات د هغې درې په مرکز کې ده چې له ختیځ او شمال لویدیځ لوریو څخه د سمني غرنی لړی محصوره کړې ده. «پـَتـِرسن» [18] *اوسنی نقشې د «کوچني سمني غرونو» نوم ښیي. وګورئ: " سامي"*

**نور بیا**

## سام نري: ....

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه [لینک](#) لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

---

15 - Sina

16 - Sher- i -Oba

17 - Shamezey

18 - Paterson


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ